AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال ۲۰۲۲/۰۹/۲۴

# د بېباورۍ ملي کړکېچ (بحران)

موږ هرځومره، چې له بېباورۍ او د اعتماد له نشت څخه سرټکوو، هريو مو همدومره د همدغه بحران په رامنځته کولو کې ونډه لرو او مسئول يو.

تاسو به وایاست: څنګه؟

خو د دې (څنګه؟) تر ځوابولو وړاندې، د افغانستان د ستونزې يوازينۍ حللاره د ملت د وېښ، روښانه او شعوري راپاڅېدل دي، دا تر هغو نه کيږي، چې موږ يو پر بل بېباوره يو، چې داسې هر يو بېباوري خپروو، نو تر پایه به رېښتيني مشران ونه مومو.

په افغانستان کې د سیاسي - ټولنيز او ان فرهنګي چارو په برخه کې هڅه کول، داسې دي، لکه له سپينو جامو سره چې د منديي (مندوي) په درې لوېشتو ختو کې روان يې، په زرګونو خلک دې ترڅنګ منډې وهي او ستا تمه وي، چې سپيني جامې دې ونه لړل شي. هغوی چې سپېڅلي دي او نه غواړي جامې يې ککړې شي، زړه نه ښه کوي، په دې ختو کې ورګډ شي، ځکه نو ميدان هغوی ته ورپاتې دی، چې نه شرم لري او نه سپيني جامې يا د ځان پاک ساتلو وسوسه و اندېښنه.

### څه مانا؟

هغوی چې بد خلک دي، پربکړه يې همدا ده، چې بد اوسي، ورته بد ويل هغوی اصلاح کولای نه شي. حللاره دا ده، چې د ښو خلکو په هڅولو او صحنې ته راوستلو، بد خلک ځنډې ته وشړل شي.

د افغانستان په نږدې نيمه پېړۍ کړکېچ کې، هغوی چې ارادي خيانت کړی او ډېر بدخلک دي، تر سلو زيات نه دي، ورځه دا يې زر کسان. ښايي زر دوه زره نور داسې وي، چې له دوی سره يې د ګټو په خاطر ملګرتيا کړې وي، دا يې لس زره ونيسئ، د ټولو خاينينو شمېر تر لسو زرو نه اوړي، خو موږ لګيا يې هرڅوک چې په مخه راځي، ښکنځو يې او سپکوو يې. موږ ته څلوېښت ميليونه افغانان ټول بد ايسي.

دا هېڅکله په دې مانا نه ده، چې پر خاينينو او بدو خلکو به نيوکه نه کوو او د ملت محکمې ته به يې نه راکاږو، نه! دا به کوو، خو لږ ترلږه د همدې راکاږني لپاره هم بايد سره يوه خوله شو، يو لاس شو او پر يوه ګډه لاره چاره خو سره سلا شو. همدا اوس خو د يوې برخې خلکو لپاره خاينين د بلې برخې خلکو لپاره اتلان دي.
يوه ازمويينه:

پر فيسبوک يا ټويټر يو فرضي نوم وړاندې کړئ، چې په هغه نامه شخصيت اصلاً نه وي موجود. د دغه فرضي افغان په اړه نظر پوښتنه وکړئ، وبه ګورئ، چې د ښکنځلو او سپکاويو سيلاو به پرې راشي، څوک به يې له پلار ونيکه غل بولي او څوک به يې عياش و غلام و کافر و څه وڅه... لکه دوی ټول يې چې پېژني.
ځکه خو وايم، چې په روانه بې باورۍ کې موږ هر يو مسئول يو.

د (هر) افغان په خوله، د (هر) افغان سپکاوی، زموږ د دوښمنانو دسيسه ده، ټولو ته د ټولو په خوله ښکنځلې د دې لپاره ټوليزې (تعميم) شوې، چې موږ په خپلو کې بې باوره شو او دوښمن ګاونډي په دې خړو اوبو کې پرېمانه کبان ونيسي.

نوره مو خوښه، خو که غواړو له روان خونړي کړکېچ څخه ووځو بايد يو پر بل باور وکړو، يو پر بل باور د ملتپالنې تاداو دی، له دې تاداوه پرته نه ملت شته، نه هېواد او نه انساني ژوند و ژغور.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ